# خبــــــــرپانـــه

# د ملګرو ملتونو پراختيايي پروګرام

## د ".af" تر نامه لاندې ۵۰۰ ويبپاڼې ثبت شوې او د ۱۰۰ % ډېرېدو تمه يې کېږي

**۲۷ وری ۱۳۸۵**

## په دې ګڼه کې


د ملګرو ملتونو د پراختيايي اداري د سيل پروژې په ورکشاپ کې د فساد د کچې پر ستونزې خبرې وشوې 2

د فرخار په ولسوالۍ کې به د اوبو د برېښنا يو وړوکی بند د ډاياګ بهير ته د دغې ولسوالۍ د ټولو قوماندانانو تر غاړې کېښودو وروسته جوړ شي 2

ايوان لو لوپيتا بيناياسون په کندهار او دايکنډي کې خپل خوښنې کار او له خپل ځان سره مرستې ته د خلکو د هڅونې ځانګړې تجربه درلوده 3

د جاپان دولت په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د پراختيايي اداري له دوو پروژو سره د ۲۹ مليونو ډالرو مرسته کوي 4


## د لازياتو معلوماتو لپاره:


**اکمل داوي د اطلاعاتو او نشراتو مسوول**
+۹۳ (۰) 70 20 11 22
akmal.dawi@undp.org


معلوماتي او مخابراتي ټيکنالوجی په افغانستان کې چټکه وده کوي او په ورځنی ژوند کې بېلابېل اسانتياوې سره نښلوي. د افغانستان د اسلامي جمهوريت د مخابراتو وزارت د ملګرو ملتونو د پراختيايي اداري د معلوماتي او مخابراتي ټيکنالوجی د پروژې په ملاتړ، چې د ۲۰۰۲م کال د جولای په مياشت کې پيل شوې، داسې بېلابېلې پروژې پلې کړې چې په هېواد کې د کاري ظرفيت د لوړولو، د مخابراتو د کمپيوټري کولو او د عصري معلوماتي ټيکنالوجی د برابرولو لپاره طرحه شوې وې.

همدا پنځه کاله وړاندې افغانستان د انټرنيټ له نړيوالې شبکې څخه ګوښه پاتې شوی و. خو نن ۵۰۰ خصوصي او رسمي ويبپاڼې د ".af" تر وروستاړي لاندې فعاله دي. د ".af" د domain مسؤول دفتر په عيني وخت کې په برياليتوب سره د هېواد د کوډونو د اداره کوونکو د شورا (CoCCA) له لارې نبغ په نبغه د ويبپاڼې د نوم د ثبتولو سيستم برابر کړی دی. تمه کېږي چې دغه سيستم به د ويب پاڼو د نوم په نوملیکنه کې ۱۰۰ فيصده ډېروالی راولي او په خپله د ".af" د domain د پايښت لپاره به کافي عايد رامنځته کړي.



ادرې د معلوماتي ټيکنالوجۍ پروژې د مخابراتو له وزارت سره په نږدې همکارۍ کې له يو لړ نورو پراختيايي او د ظرفيت لوړونې پروژو سره سخاوتمندانه مرسته کړې ده. د ۲۰۰۳م کال په جولای کې په کابل کې انټرنيټ ته د عامو وګړو د لاس رسي او د دوی د کمپيوټر د اساسي روزنې لپاره د مخابراتو د اسانتياوو نهه خونې جوړې شوې. يوازې په ۲۰۰۴م کال کې شا او خوا ۶۰۰۰۰ کسانو له دغو اسانتياوو څخه ګټه پورته کړې او د ښوونځيو تر ۲۰۰۰ ډېرو زده کوونکيو په کې د کمپيوټر اساسي روزنه ترلاسه کړې ده. د مخابراتو وزارت ۲۰ کارکوونکي د دغو خونو د کار د پرمخ بيولو لپاره روزل شوي دي.

د سيسکو د شبکې د اکاډمي پروګرام د برېښنايي زدکړې يو بل هر اړخيز پروګرام دی چې زده کوونکي د انټرنيټ پر هغو مهارتونو سمبالوي چې په نړيوال اقتصاد کې اساسي نقش لري. دغه اکاډمي د ويب پر بنسټ ولاړو معلوماتو، نبغ په نبغه ارزونې، د زده کوونکو د کارکردګي د څرګ لګونې، د ښوونکو د روزنې او ملاتړ، او د صنعت د معيار د تصديقونو لپاره د تيارۍ په برخه کې خدمتونه وړاندې کوي. نوموړي پروګرام له ۲۰۰۲م کال راهيسې د انټرنيټي شبکې ۴۱۴ مرستيالان فارغ کړي چې د سيسکو له خوا هم تصديق شوي دي. ځينو فارغينو د افغان ښځو د شبکې، د فرانسې سفارت، د اقتصاد وزارت، د پروژيي خدمتونو لپاره د ملګرو ملتونو دفتر (UNOPS(، انټرنيوز اجانس، کابل پوهنتون کې د معلوماتي ټيکنالوجۍ په مرکز، Global System International، د ښځو د چارو وزارت، د نړيوالې پراختيا لپاره د متحده اياﻻتو اداري، يونيفيم، د بهرنيو چارو وزارت، د افغان بيسيم شرکت، د ملګرو ملتونو پراختيايي اداري او داسې نورو سازمانونو کې کار موندلی دی.

د ملګرو ملتونو د پراختيايي ادرې د مخابراتي ټيکنالوجۍ پروژې د ۲۰۰۶م کال لپاره ۱,۳۷۳,۱۴۷ امريکايي ډالر د ملګرو ملتونو د پراختيايي اداري له مرکزي بودجې، د فرانسې له وجهي صندوق، مايکروسافټ، له اروپايی کمېسيون، سيسکو او د نړيوالې پراختيا لپاره د متحده اياﻻتونو له اداري تر لاسه کړي دي. دغه پروژه په راتلونکي کې يو لړ لومړيتوبونه لري لکه: د معلوماتي او مخابراتي ټيکنالوجۍ د شورا جوړول، د برېښنايي اداري ملاتړ، د برېښنايي



افغان ښځې د مزارشريف د معلوماتي ټيکنالوجۍ د روزنې په مرکز کې کمپيوټر زده کوي

اداري د پروژې لپاره د پانګې راغونډول، د برېښنايي اداري لپاره د کارپوهانو ګمارل، د برېښنايي اداري لپاره د معلوماتي ټيکنالوجۍ د وسايلو پېرودل، د سيسکو د اکاډميو خورول او د سيسکو د شبکې د اکاډميو د پروګرام د ښوونيز نصاب بډايه کول.



د معلوماتي او مخابراتي ټيکنالوژۍ د رزونې يو څو ولايتي فارغينې

د دې تر څنګ، په کابل او شپږو سترو ښارونو کې د ملګرو ملتونو د پراختيايي ادرې د معلوماتي ټيکنالوجۍ د پروژې له لارې شاوخوا ۳,۰۰۰ ملکي دولتي کارکوونکو او زده کوونکو د معلوماتي ټيکنالوجۍ په اړه اساسي روزنه بشپړه کړې ده. اوس مهال په کابل او نورو ولايتونو کې د معلوماتي ټيکنالوجۍ د روزنې ۱۰ مرکزونه شته چې تر ۶۰۰ ډېر زده کوونکي لري او د مخابراتو د وزارت له خوا اداره کېږي . په اساسي روزنه کې وينډوز XP، مايکروسافټ ورډ، ايکسيل، پاور پاينټ او د انټرنيټ پېژندنه شامل دي.

د دې برسېره، د ملګرو ملتونو د پراختيايي

## د افغانستان د مقننه ځواک د جوړولو د ملاتړ پروژې (SEAL)په ورکشاپ کې د فساد د کچې پر ستونزې خبرې وشوې

د ملګرو ملتونو د پراختيايي اداري د سيل پروژې د ملي شورا د تقنيني کمېټو د ملاتړ د پروګرام د يوې برخې په توګه د ورکشاپونو په لړۍ کې د فساد ضد هڅو په اړه خپل دويم ورکشاپ د ۱۳۸۵م کال د وږي پر ۱۴مه نېټه جوړ کړ.

SEAL په ډېرې خوښۍ سره د ولسي جرګې د فساد ضد کمېټې غړيو ته په دغه ورکشاپ کې ښه راغلاست ووايه.

ښاغلي سيد حسين علمي بلخي د دغه کمېسيون رئيس د هېواد د چارو د حالت په اړه د خپلو خبرو په ترڅ کې وويل چې فساد په ټولو هېوادونو کې يوه ستونزه ده او افغانستان هم ورڅخه بې برخې نه دی.

اغلي کرين هاوزمين د ملګرو ملتونو د پراختيايي اداري د روڼتيا (شفافيت) د ځانګې په استازيتوب د خپلو خبرو په ترڅ کې د کمېسيون غړيو ته په افغانستان کې د داداري فساد د وضعيت په اړه معلومات ورکړل او هغه اقدامات يې په ګوته کړل چې د فساد ضد مبارزې لپاره طرحه شوي دي. نوموړي د کمېسيون پر غړو غږ وکړ چې د خپلو کمېټيو د ځارنې له دندې څخه بشپړه ګټه پورته کړي او د بودجې په تائيدولو، د عامه حسابونو په تصفيه کولو، د مهمو عامه چارواکو په تائيدولو او د تګلارې د پلي کولو په ثابتي ځارنې کې يې وکاروي.

د نشه يي توکو او جرايمو پر ضد د ملګرو ملتونو له اداري (UNODC) څخه متيو پاسکالي بيا د کمېسيون غړيو ته د اداری فساد پرخلاف د ملګرو ملتونو د تړون ځانګړتياوې بيان کړي او سپارښتنه يې وکړه چې افغانستان دې دغه نړيوال تړون بې له ځنده تصويب کړي.

د کمېټې رئيس سيد بلخي وويل چې د دوی کمېټه به د فساد پر خلاف د ملګرو ملتونو د کنوانسيون د تصويبولو تر څنګ تر خپله وسه د ټولو هغو قوانينو د پلي کولو هڅه وکړي چې د فساد پرضد جوړ شوي دي. ده ټينګار وکړ چې په افغانستان کې د فساد د ستونزې پراخوالي ته په پام سره دغه ستونزه يوازې د دغه کنونسيون له تصويب سره نه اوارېږي. ده زياته کړه ”غوڅ تعقيبي فعاليت ته به ارتياوي.“

د فساد پر خلاف د ملګرو ملتونو کنونسيون اوس مهال د اساسي قانون له ۹۰مې مادې سره سم ملي شورا ته د تصويب لپاره وړاندې شوی دی.

## د فرخار په ولسوالۍ کې به د اوبو د برېښنا يو وړوکی بند د داياګ بهير ته د دغې ولسوالۍ د ټولو قوماندانانو تر ځارې کېښودو وروسته جوړ شي

تالقان، تخار، د سپتمبر ۱۰، ۲۰۰۶:

د فرخار په ولسوالۍ کې به د اوبو د برېښنا پر يو وړوکي بند ډېر ژر وروسته له هغه کار پيل شي چې د دغې ولسوالۍ د پاتې ناقانونه وسله والو ډلو مشران خپلې وسلې وسپاري او خپلې ډلې منحل اعلان کړي. د دغه بند پروژه لا له وړاندې طرحه شوې او قراردادي ته اړتيا لري چې يوازې هغه وخت به غوره شي چې په دغه ولسوالۍ کې ټولې وسلې وسپارل شي او هم يې د ناقانونه وسله والو ډلو د رنګولو بهير پاى ته ورسېږي.

د برېښنا دغه بند چې د وارساګي په سيند به جوړ شي وروسته له هغه ډېزاين شو چې د فرخار ولسوالۍ د ناقانونه وسله والو ډلو ډېرو مشرانو خپلې وسلې وسپارلې او د خپلو ډلو د منحلولو ژمنه يې وکړه. دغو قوماندانانو په خپله خوښه د وسلو له سپارلو او د ناقانونه وسله والو ډلو د منحلولو له لارې په ولسوالۍ کې د ثبات له ډېروالي سره مرسته وکړه چې په پايله کې يې لاېېر خونډي چاپېريال رامنځته شو او د خلکو د ګټې لپاره يې د دغه بند د جوړولو په څېر نورو پروژو پلي کولو ته لار اوره کړه. دغه قوماندانان بايد وستاييل شي چې د هغو خلکو غږ ته يې غوږ کېښود چې له کلونو دردونکي جګړې وروسته سوله، ثبات، د قانون واکمنۍ او سوکالي غواړي.

پاتې قوماندانان ولسوالۍ او د ولسوالۍ وګړي د داياګ بهير ته د نه غاړې کېښودو له لارې برغمل نشي ساتلی. دوی بايد خپلې وسلې وسپاري او خپلې ډلې رنګې کړي تر څو د برېښنا د بند پروژه پيل شي. دغه بند به له جوړېدو وروسته د ولسوالۍ ودانۍ، د پوليسو قومندانۍ، يو روغتون، دوو ليسو، ۱۷۰ دوکانو او اوو کليو ته برېښنا ورکړي. نوموړې پروژه به له اقتصادي ودې او پراختيا او همدارنګه له ښه حکومت چلولو سره مرسته وکړي چې په خپل وارسره به د ولسوالۍ پر هر اوسېدونکي باندې مثبته اغېزه وکړي.

دغه پروژه چې د ولسوالۍ له اوسېدونکو سره له سلامشورې وروسته غوره شوې، يو له هغو خلورو لومړيتوب لرونکو پروژو څخه ده چې د وسله والو د بې وسليې کولو او په ټولنه کې د بيا ميشته کولو د ګډې دارالانشاء او د کليو د بيا رغونې او پراختيا د وزارت د ګډ ټيم له خوا په ګوته شوې دي.

د فرخار ولسوالۍ اوسېدونکي هيله من دي چې له امنيت سره د خلکو لېوالتيا او خپلې ولسوالۍ ته د پراختيايي مرستو د جلبولو لپاره به دغلته د داياګ بهير ډېر ژر بشپړ شي.

وګورۍ:
www.anbpafg.org

# UN Volunteers

## ایوان لو لوپیتا بینیاسون په کندهار او دایکنډي کې خپل خوښي کار او له خپل ځان سره مرستې ته د خلکو د هڅونې ځانګړې تجربه درلوده







وړاندې له دې چې د ۲۰۰۶م کال په مارچ کې افغانستان ته سفر وکړم، ډیرو خلکو په افغانستان کې له بې امنیتۍ څخه خبرداری راکاوه. خو دا چې زه د نړۍ تر ټولو اوږدې ۴۰ کلنې کورنۍ جګړې کې لوی شوی یم نو فکر مې کاوه چې زه هم داسې پوستین لرم چې په افغانستان کې د بې امنۍ ټولې ناخوالې جذبولی او پر وړاندې یې مقاومت کولی شي. په سوډان کې د جګړې په وختونو کې د مرمیو اوازونه د واده د شورماشور په څیر په غوږونو لګېدل. کومه ورځ به چې د مرمیو د اوزو له اورېدو پرته تېره شوه نو هر څوك به د خوښۍ پر ځای ډیر ربړیدلي وو. ټول خلك له دې ډاره چې د شپې له کورنو څخه ونه ایستل شي او ونه وژل شي په بوټو کې له مارانو او وحشي ځناورو سره ویده کېدل. ډیر کسان مارانو او وحشي ځناورو ووژل او یو څه یې د خدای پر رحم ژوندي پاتې دي. زما ډیر دوستان هك پك وو چې زه ولې په داسې وخت کې چې په سوله ییز سوډان کې مې باید د پروګرام د مسؤول په توګه له خپل کار څخه خوند اخیستی وای، افغانستان ته ځم. ما دا فکر کاوه چې په افغانستان کې بې امنۍ د سوډان په څیر ده او زه به وکړی شم چې د داوطلبانه کار روحیه خپره کړم. کله نا کله له ځانه پوښتم چې ایا د افغانستان په ناامنه ځای کې کار ارامي یا ځورېدنه ده.

کله چې د ۲۰۰۶م د مارچ پر ۳۱مه نېټه د کابل هوایي ډګر ته راورسېدم نو سم لاسي د امنیتي مسایلو په هکله د ملګرو ملتونو د پراختیایي ادارې د لنډو معلوماتو د اورېدو لپاره ویوړل شوم. یو څو اونۍ وروسته د رپوټونو له مخې په کندهار کې ۲۰۰ کسان ووژل شول خو ما د یوې مرمۍ غږ هم وانهورېده کوم چې یو وخت په سوډان کې زموږ د ژوند ورځنۍ ستونزه وه. تر دغې پیښې کم وخت وروسته د ملګرو ملتونو کارکوونکي پر ځان وژونکو بریدونو تهدید شول، چې په کندهار کې یې د ملګرو ملتونو د کارکوونکو ګرځېدنه نږدې ناممکنه کړه. ټول هغه څه چې ما ترسره کولی شو د کورنیو کارکوونکو د کاري ظرفیت پیاوړي کول و څو د دې جوګه شي چې خپل ساحوي کارونه په بریالیتوب سره ترسره کړي. زه وتوانېدم چې خپل کارکوونکي وروزم چې څنګه په رپوټ ورکولو کې ښه والی راولي او د ساحوي دفتر ښه ارزونه اداره کړي. په هر حال، له خپل کاره د ساحوي کارکوونکي په توګه راضي نه وم، که څه هم د ښه رپوټ ورکولو له لارې یې لاسته راړونې ښې منعکسې شوې دي.

زه وروسته د مرکزي غرنۍ سیمې د ډایکونډي ساحوي دفتر ته وګمارل شوم چېرې چې امنیت نسبتاً ارام و. دغلته لومړۍ ننګونه دا وه چې یو نوی فرعي دفتر په نیلي کې پرانیستل شي. زه وتوانېدم چې د ودانیو د کرایې کولو لپاره د کورونو له څښتنانو سره وغږېدم، په ښه توګه مې دفتر برابر کړ او د دفتر د سمې چلونې لپاره مې یو اغیزمن سیسټم جوړ کړ. البته تر ټولو سخت کار دا و چې د داوطلبانه کار روحیه رامنځته کړم او دا چې خلك د پرمختګ لپاره په خپله له خپل ځان سره مرسته وکړي او دا چې څه ډول د ښه کار لپاره د ټولنې او شریکانو باور ترلاسه کړو. ځینو خلکو د هر کار لپاره د پیسو غوښتنه کوله. د رضاکارانه کار روحیه ښېخې نه وه. لومړی مې خپل افغان کارکوونکي له خپل ځان سره مرستې ته وهڅول چې کولی شي پایېدونکی پرمختګ باروې کړي. ما دوی ته د هغو هېوادونو بېلګې ورکولې چېرې چې داوطلبانه کار په ملي پراختیا کې ډیر مهم نقش لوبولی دی. د دې هڅو په پایله کې موږ وتوانېدو چې د ټولنې په منځ کې د خپل خوښي کار او له خپل ځان سره د مرستې روحیه رامنځته کړو. نن ورځ، ډیر خوښ یم چې ټولنه اوس د درېیو ښوونځیو د جوړونې لپاره بې پیسو کارګر ورکوي.
تر سختې لارې ترلاسه شوې وړه لاسته راونه تر هغې غټې لاسته راړونې ډیره قیمتي او په زړه پورې وي چې په اسانۍ ترلاسه کېږي. په افغانستان کې زما شتوالی زما او په مجموع کې د

**Visit:**
**www.unvafghanistan.org**

ډایکونډي د خلکو لپاره برکتناك و چې له دوی سره مې تر خپل ټول وسه پورې سخت کار وکړ تر څو د خپل خوښي کار یوه ښه روحیه رامنځته کړم. په دې لار کې لاډیر څه باید وشي تر څو دغه وړه لاسته راوړنه وپایږي. دا به یوازې هغه وخت ممکن وي چې په پراختیایي چارو کې ټول ښکیل برخه وال د خپل خوښي کار عیني روحیه تطبیق کړي. په افغانستان کې د بې امنۍ یوازینۍ ستونزه پټ وژونکي یا ځان وژونکي بم چاودونکي دي چې په عامو وګړو کې د پراخې اندیښنې لامل ګرځي. له دې سره سره په دې بې امنه افغانستان کې زما ژوند ځورونکی نه دی ځکه چې ما دلته موقع ومونده چې د بې وزله خلکو د ژوند له ژغورلو سره خپله مینه او ژمنتیا ثابته کړم. زما او زما د افغانان ملګرو ژوند یو دی. زه په د هغې مړینې درد حس نه کړم چې د نورو بې وزله ورونو د ژوند د ساتنې لپاره ومرم. په داسې حال کې چې په افغانستان کې زما د کار موده پای ته رسېږي اوس ختیځ تیمور ته د خلکو د ژوند د خوندیتوب لپاره ځم. الله دې له افغانستان سر د سوډان په څیر د بشپړې سولې په راوستو کې مرسته وکړي.

زه په ختېه سوډانی او په ۱۹۶۴م کال کې د سهیلي سوډان د کجوکیجې په سیمه کې زیږېدلی یم. په اوګانډا، سوډان، غنا او جرمنې کې مې زدکړه کړې ده. د ساینس لسانس او په پراختیایي چارو، مالیې او حساب ساتنه کې دوه ماسټرۍ لرم. دولس کاله مې د حساب د تصفیې د مسؤول او یوولس کاله مې د ملګرو ملتونو د خوارکي توکو له نړیوال پروګرام سره کار کړی دی.

# د جاپان دولت په افغانستان کې د ملکرو ملتونو د پراختيايي اداري له دوو پروژو سره د ۲۹ مليونو ډالرو مرسته وکړه



د جاپان دولت په افغانستان کې د ملکرو ملتونو له پراختيايي اداري سره د خپلو وروستيو مرستو په ترڅ کې په باميانو، بلخ، ننګرهار او کندهار کې د اقتصادي رغونې، بې وزلۍ کمونې، د ژوندانه د ښه والي او د ناقانونه وسلو والو ډلو د ړنګولو د پياوړتيا لپاره ۲۹ مليونه ډالره مرسته کړې ده. دغه مرسته به د ملکرو ملتونو د پراختيايي اداري د سيمه ييزې پراختيا د ملي پروګرام او د ناقانونه وسلو والو ډلو د ړنګولو په پروژه کې وکارول شي.

د دغې مرستې ۲۳ مليونه ډالر به د سيمه ييزې پراختيا د ملي پروګرام له لارې د باميانو، بلخ، ننګرهار او کندهار په ولايتونو کې د هر اړخيزې کليوالي پراختيا د ملاتړ په لار کې ولګول شي چې ډيره برخه به يې د کليو د بيا رغونې او پراختيا له وزارت سره په اړوندو ساحو کې د لومړيتوب لرونکو فعاليتونو او پروګرامونو په پلي کولو کې مرسته وکړي. دغه مرستې به د يو داسې مناسب چاپېريال د رامنځته کېدو ملاتړ وکړي چې د ناقانونه وسلو والو ډلو د بې وسلې کولو او منحلولو له لارې رامنځته شوې امنيت او سوله ټينګه کړي او همدارنګه به په ټولنه کې د ړنګو شويو ډلو له اقتصادي بيا ميشته کېدنې سره مرسته وکړي. پلي کېدونکي پروژې به د ټولنيزې سلامشورې له لارې په ګوته کېږي او د نويو او موجوده خوراکي محصولاتو د کرنيزو پروژو، زيربنا لکه سړکونو او پلونو، د څښاک او کرنيزو اوبو (اوبه لګونې)، د عامه تشنابونو او ودانيو جوړولو په څير پروژې به په کې شاملې وي. پاتې شپږ مليونه ډالر به له حکومت سره په افغانستان کې د ناقانونه وسلو والو ډلو د منحلولو له لارې د يو خوندي چاپېريال د رامنځته کولو په برخه کې د مرستې په لار کې ولګول شي.

دغه پروګرامونه د داياک د هر اړخيز پروګرام تر ملاتړ لاندې راځي:

**د ناقانونه وسلو والو ډلو منحلول**

د ناقانونه وسلو والو ډلو د منحلولو پروګرام غواړي چې له دولت سره د بشري خونديتوب د ښه والي په برخه کې د ناقانونه وسلو والو ډلو د بې وسلې کولو او منحلولو او په ټولنه کې د وسلو وال تاوتريخوالي د کچې د راټيټولو له لارې مرسته وکړي. دغه پروګرام همدارنګه په پام کې لري چې د ټولنيز او اقتصادي پرمختګ لپاره د دولت اوسني پروګرامونه غښتلي کړي څو ثبات زيات او ښه حکومت چلونې ته وده ورکړي کوم چې په خپل وار په افغانستان کې د امنيتي سيکتور د سمونې يو اساسي او نه بېلېدونکې برخه ده.

**د سيمه ييزې پراختيا ملي پروګرام**

دغه پروژه به د ناقانونه وسلو والو ډلو د منحلولو د پروګرامونو د پايلو د پايښت لپاره د يو مناسب او ور چاپېريال له رامنځته کېدو سره مرسته وکړي او په خانګړې ډول د بلخ، کندهار، ننګرهار او باميانو په ولايتونو کې به د اقتصادي رغونې، د بې وزلۍ د پايېدونکې کمونې او د معيشت د ښه والي له لارې د بې وسلې شويو ډلو په خپلو ټولنو کې بيا ميشته کېدنه اسانه کړي. دغه وړانديز شوې پروژه به د سيمه ييزې پراختيا د ملي پروګرام د دويم پړاو په چوکاټ کې ترلاس لاندې ونيول شي څو د هراړخيزې کليوالي پراختيا د ودې له لارې د ناقانونه وسلو والو ډلو د منحلولو له پروګرامونوڅخه رامنځته شوې سولې او بشري خونديتوب په ځای پاتې شي. دغه موخې به د (۱) ټولنيزې او اقتصادي زيربنا او خدمتونو او د عايد او کارموندنې د مواقعو د رامنځته کولو لپاره د لومړيتوب لرونکو اړتياوو د ملاتړ او (۲) د هر اړخيزو، اشتراکي او د ټولنيزې سلامشورې پر بنسټ ولاړې پلان جوړونې او پانګه اچونې د ميکانيزمونو د رامنځته کولو او په مرکزي، سيمه ييزه، ولايتي او د ولسواليو په کچه د کليو د بيارغونې او پراختيا د وزارت بنيادي کاري ظرفيت د غښتلي کولو له لارې ترلاسه شي.



**د لازياتو معلوماتو لپاره:**

**اکمل راوي د اطلاعاتو او نشراتو مسوول**
+۹۳ (۰) 70 20 11 22
akmal.dawi@undp.org

**صميم يعقوبي، د ډيزاين مسوول**
+۹۳ (۰) 799 77 40 44
samim.yaquby@undp.org